آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

مصطفی پسرلی

۲۰۱۷/۰۱/۰۴



# غــــــزل

لـویه دشته د فـراق کې پریشان یـم
ستا د ښکلي مخ لیدو ته په ارمان یـم

دا عـالـم مې مسخـره او مجنون بولي
زه دا ستا د قدم خاورې خو انسان یـم

دغه خپلي بې وسی ته ورو ورو ژړام
چې سکون نلرم هروخت سرگردان یـم

کوم قانـون کوم عـدالت ته پناه یوسم
سکه ورور نه شوم جدا په بیابان یـم

رنګارنګ رنګونه نشته دي بې رنګ شوم
د رنګونو په دنیا کې په بل شان یـم

هرطرف ما کې غمونه را سرګند شو
زه د درد او د پرهر په لار روان یـم

"پسرلی"، پسرلی نه دی خزان شوی
ستا تصویرسره لګیا په ښه خفګان یـم

پای



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com